څوک چې د قربانۍ لپاره څاروی ولري، نو کله چې د ذی الحجې میاشت ولیدل شي، نو د قرباني کولو پورې دې خپل ویښتان او نوکان نه پرې کوي

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مېرمن؛ أم المؤمنين ام سلمه رضى الله عنها څخه روايت دى هغې ويلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې د قربانۍ لپاره څاروی ولري، نو کله چې د ذی الحجې میاشت ولیدل شي، نو د قرباني کولو پورې دې خپل ویښتان او نوکان نه پرې کوي".

[صحيح دى] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم هغه چا ته امر کړی چې د قربانۍ کولو اراده يې کړي وي چې د ذی الحجې د مياشتې له راښکاره کېدو وروسته دې د خپل سر، تخرګ، بريتونو او نورو ځايونو ويښتان نه اخلي او نه دې د لاسونو او پښو نوکان پرې کوي، تر څو يې چې قرباني نه وي کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8954